# د پښتو ژبې اصل

## (THE ORIGIN OF PASHTO LANGUAGE)

ډاکټریوسف جذاب*

**Abstract**:

Pashto, language of the Pashtun, is an old language spanning over thousands years. This research paper named د پښتو ژبې اصل (The origin of Pashto language) spotlights three popular views about the origin of this language. The most famous, old, and deeply rooted in the minds of common folks is that Pashto belongs to the family of sematic languages. According to the opinion of these scholars the ethnicity of these people is also attached with the races that adhere to sematic branch of languages. On the other hand, a bulk of scholars and linguists claim that it belongs to the eastern branch of Indo-Iranian languages borrowed many linguistic peculiarities from Indo-Aryan languages in the contact situation. Owing to a long and consistent contact situation with these languages, some scholars consider Pashto to be a variety descended from Indo-Aryan stock. Nineteenth and twentieth centuries witnessed another however, less distinct, view stating that Pashto is a separate and independent language having nothing to do with either sematic or Aryan languages. Dravidians are the oldest languages of the subcontinent. An attempt has been made to link Pashto with the Dravidian branch of languages. This paper presents all these views in great detail.

**Keywords**: Pashto, language , Origin, Indo-Iranian languages

**تعارف**:

د ژبو پهٔ مختلفو خاندانونو کښې دوه خاندانونه يعني سامي (Sematic) او انډو يورپين (Indo-European) داسې دي چې د رواياتو تر مخه او د نوې څېړنې پهٔ رڼا کښې ورپورې زمونږ پښتو ژبه نښلولی شوې ده يعني يوه نظريه دا ده چې پښتو د سامي خاندان ژبه ده او بله نظريه دا ده چې پښتو د انډويورپين خاندان سره تعلق لري، د پښتو ژبې پهٔ حواله دا دواړه نظريې ډېرې معروفې دي خو د دې سره سره يوه بله نظريه هم شته کومه چې مولانا عبدالقادر صاحب پېښ کړې وه د پښتو ژبې ځنې اوسنو محققينو دا نظريه مخ پهٔ وړاندې بوتله او دې مقام ته ئې ورسوله چې اوس يې د پښتو ژبې پهٔ بابله پهٔ نظرئيو کښې ذکر نهٔ کول نامناسب دي، ددې تمهيد خلاصه دا شوه چې د پښتو ژبې د خاندان پهٔ حقله درې نظريې معروفې دي:

اول: پښتو ژبه د سامي ژبو د خاندان سره تعلق لري

دويم: پښتو د انډويورپين يا اريايي ژبو څخه ده

* Assitant Professor,Chiar peson Department of Pashto, Govt post Graguate college Banno

دريم: پښتو يوه قديمه ژبه ده چې خپل انفراديت لري او د سامي يا اريايي ژبو سره يې نشو نښلولی. لاندې د دې نظريو تفصيل وړاندې کوو:

**اوله نظريه: پښتو د سامي نسل ژبه ده:**

دا نظريه پهٔ ټولو نظرئيو کښې وختنۍ ده او بنياد ورته د پښتو د اصل نسل پهٔ حقله دې نظريې ايښی دی چې پښتانهٔ بني اسرائيل دي چونکه د بني اسرائيلو ژبه عبراني وه ځکه نو پښتو هم د عبراني ژبې اوسنی شکل دی دا يوه نوې ژبه ده کومه چې د سليمان عليه السلام پهٔ وختونو کښې د افغان پهٔ ذريعه د عبرانۍ الفاظو لهٔ تبديليو څخه مخترع شوې ده دا افغاني ژبه اګر که له وختنۍ ژبو څخه نهٔ ده مګر يوه مستقله او نوې ژبه ده چې د عربي لفظونو لهٔ تغير څخه يې وجود موندلی دی (1)

عبدالله جان عابد د دې خبرې پهٔ تائيد کښې چې پښتانهٔ بني اسرائيل دي، ليکلي دي: "دا نظريه د ټولو نه مخکښې پهٔ منظمه او مربوطه توګه نعمت الله هروي پهٔ خپل تاليف تاريخِ خان جهاني ومخزنِ افغاني کښې راوړې ده چې د دې مطابق پښتانهٔ بني اسرائيل دي " (2)

نو نعمت الله هروي وړومبنی کس نهٔ دی چې دا دعوی يې کړې ده د مخزن خاوند دا کتاب پهٔ ۱۶۱۶ء کښې ليکلی دی خو پهٔ ۱۵۶۸ء کښې "تواريخِ دولتِ شير شاهي" لهٔ اميرحسن علي خان او ۱۵۸۲ء کښې "تذکره الابرار والاشرار" لهٔ اخون درويزه بابا مخې ته راغلي وو (3)

چې پکښې د پښتنو پهٔ حقله د دوي د اسرائيليت دعویٰ شوې ده د دې نه علاوه "اسرار الافاغنه" لهٔ حسين ابنِ صابرچې پهٔ ۱۵۸۰ء کښې ليکلی شوی دی او د تلخيص پهٔ صورت کښې دی هم دا دعویٰ کوي چې پښتانهٔ بني اسرائيل دي (4)

البته د عابد دا خبره پهٔ ځاي ده چې نعمت الله هروي دا نظريه پهٔ منظم او مربوط ډول داسې پېش کړه چې راتلونکيوپې تقليد وکړو، د خان روشن خان پهٔ قول شيخ علي، اخوند درويزه بابا، اخوند خافظ، عبدالرحمن بابا، خوشحال خان خټک، شاهِ افغان اميرعبدالرحمٰن خان، شيخ عبدالواحد افغان، محمد شعيب المعروف باباجي صَاحب، عبدالله قصوري، ډاکټر شيربهادرخان، صاحب زاده عبدالقيوم، عبدالسلام خان عمرخيل، حافظ رحمت خان، نواب محمد اکبرخان رئيس يوسفزی، مياعمرڅمکني او مولوي نجم الغني خان رامپوري هم دا نظريه لرله (5)

د دې نه علاوه پهٔ تذکرة الملوک، تاريخِ سلاطينِ سوري، طبقاتِ اکبري، ائينِ اکبري، مراة الافاغنه، تاريخِ شاهانِ صفويه ايران، شاهجهان نامه، تاريخِ عالمګيري، فرخ سيري،

تاریخِ محمد شاهي، نادر نامه او تاریخِ احمدشاهي کښې هم پښتانۀ بني اسرائیل ښودلي شوي دي (6)

مګر دا لسټ هم ختمي نۀ دی بلکه د دې نظریې پۀ تائید کوونکیو کښې د مغربي محققینو او مشرقي مؤرخینو یو ګروپ شامل دی چې پکښې هیرټامس هولډچ، مسټرفیئرر، جې ډبلیو سپېن، راورټي، حافظ رحمت خان، خان روشن خان، علامه اقبال او الله بخش یوسفي نومونه هم شامل دي، دې ټولو محققینو او مؤرخینو پۀ دې سلسله کښې خپل خپل دلا ئل راوړي دي چې عموماً یې تاریخِ خان جهاني و مخزنِ افغاني بنیاد ګرځولی دی (7)

شېرمحمد ګنډه پور پخپل کتاب "تاریخِ خورشیدجهان" کښې همدغه نظریه راټینګه کړې ده او غلام حبیب افغاني صاحب هم پخپل کتاب "پښتون – اصل نسل" کښې پښتانۀ بني اسرائیل راپۀ ګوته کوي چونکه پۀ دې ټولو کتابونو کښې مخزنِ افغاني ته پۀ دې وجه اهمیت حاصل دی چې دوي پۀ اول ځل پوره تفصیل سره دا نظریه پېښ کړی ده او ورسره ورسره یې د ضروری ربط خیال هم ساتلی دی ځکه نو دلته د دې کتاب مهمې نکتې وړاندې کېږي:

- د افغانانو ستر نیکۀ طالوت وۀ چې د هغۀ شجره نسب حضرت یعقوب علیه السلام ته رسي د ځنو مطابق دی د ابنِ یامین بنِ حضرت یعقوب علیه السلام لۀ اولاد څخه وۀ او ځنې وایي چې د یهود ابنِ حضرت یعقوب علیه السلام لۀ ال څخه وۀ –
- ارمیا او برخیا د طالوت زامن وو چې یو د حضرت داود علیه السلام د فوځ امیر او بل یې د سلطنت وزیر وۀ د ارمیا زوي افغنه او د برخیا زوي اصف نومېدو، د ارمیا او برخیا د وفات نه پس دوي د خپلو پلارونو پۀ منصب کښېناستل.
- بخت نصر چې کله بېت المقدس فتح کړو نو ډېر اسرائیلیان یې ووژل، ډېر یې قید کړل او ځنې یې د خراسان او کوهستان پۀ لور وشړل دارنګ د افغنه اولاد پۀ ایران او افغانستان کښې استوګن شو.
- د حضورصلی الله پۀ وخت حضرت خالد بنِ ولید رضی الله عنه د ملک طالوت لۀ نسل څخه وۀ .
- قېس د افغانانو دویم ستر نیکۀ وۀ چې د حضورصلی الله وسلم معاصر وۀ چې حضرت خالد بنِ ولید پۀ دعوت یې پۀ حضور صلی الله وسلم ایمان راوړی وۀ د دۀ شجره نسب پۀ اووۀ دېرش ټوپونو کښې ملک طالوت ته او پنځۀ څلوېښت پشتونو کښې حضرت ابراهیم علیه السلام او پۀ درې شپېتو پشتونو کښې حضرت ادم علیه السلام ته رسي حضورصلی الله وسلم د دۀ نوم ملک عبدالرشید بطان کښېښودو.

- د قيس عبدالرشيد درې زامنو سړبن، غرغشت، او بيټن د اولادونو نه د پښتنو ټولې قبيلې پيدا شوې (8)

دلته مونږ د دې سره کار دی چې د پښتو ژبې په باره کښې د دې نظريې علمبردار څۀ رايې لري نو د دې نظريې منونکي خپل ټول زور په دې خبره اچوي چې پښتانۀ بني اسرائيل ثابت کړي او هر کله چې دوي په خپل دې مقصد کښې کامياب شي نو د نتيجې په طور به پخپله پښتو د سامي ګروپ ژبه ثابته شي په نورو لفظونو کښې دا وئيلی شو چې دې نظريې خپل بنياد د پښتنو په تاريخ يا اصل نسل ايښی دی خو دلته دا وضاحت بايد وشي چې د دې نظريې وروستنيو مرستيالو خپلې ليکنې د پښتنو تاريخ پورې محدودې نۀ کړې بلکه لۀ نويو زاويو نه يې د دې نظريې جاج واخستو، لۀ تاريخي عواملو سره سره دوي د پښتو ژبې جوړښت ته متوجه شول په پښتو او سامي ژبو کښې يې داسې نومونه ولټول چې په هر دواړه کښې مشترک وو، خان روشن خان په خپل کتاب "تذکره" کښې يو باب "پشتو اور سامي زبانيں" د عنوان لاندې ليکلی دی په دې باب کښې موصوف ډېر سامي لفظونه، کلمې او نومونه راوړي دي چې په پښتو ژبه کښې استعماليږي څکه خو ليکي "پښتو او سامي ژبې د يو وجود اندامونه دي " (9)

هم دغه مصنف د پښتو ژبې په ضمن کښې مخکښې ليکي:

"دوي به څۀ لفظونه د عبرانۍ ژبې، څۀ د ګېرچاپېره د ګاونډي ارامي، سرياني او د اکادي ژبو نه اخستي وي او د يو بل پوهولو د پاره به يې په شام کښې د يوې نوې ژبې بنياد اچولی وي څکه چې د عبراني ژبې په بدل کښې دوي د پاره ضروري شوې وه چې د وخت تېرې لۀ پاره يوه نوې ژبه جوړه کړي په دې لحاظ په دې وخت چې دوي کومه ژبه اختيار کړه هغه پښتو شوه " (10)

پورته ذکر وشو چې د دې نظريې په مرستيالو کښې يو شمېر مستشرقين هم شامل دي، په دې مستشرقينو کښې مېجر ايچ جي راورټي يو داسې محقق دی چې د دې نظريې حق يې په ښه توګه ادا کړی دی، هم يې پښتانۀ بني اسرائيل ګڼلي دي او هم يې پښتو ژبه د سامي ګروپ د ژبو انډيواله بللې ده ، په دې سلسله کښې د راورټي دا لاندينی پېراګراف د کتو جوګه دی:

"په پښتو کښې استعماليدونکي د علت او صحيح حرفونه هم هغه کار کوي کوم چې په عربۍ، عبرانۍ او نورو سامي ژبو کښې د دوي دی، د دوي غونډې په دې کښې فقط دوه جنسه وي يعني مذکر او مؤنث ليکن په اول الذکر کښې تثنيه وي کومه چې په پښتو کښې نشته په دې سلسله کښې افغاني په واضحه توګه د ژند او سانسکرت نه مختلفه ده څکه چې په دې دواړو ژبو کښې مشترکه جنس هم وي البته دا د پهلوي سره مشابهت لري د کومې نه

چې جدیده فارسي مشتق ده، دعبرانۍ، عربۍ او فارسۍ غوندې پۀ دې کښې هم مخصوص متصل او منفصل ضمیرونه وي لیکن مؤخر الذکر یعني منفصل ضمیرونه همېشه د تېرشوي لفظ سره تړلي وي، دا اسم یا فعل یا حرف هر څۀ چې هم وي هر کله چې د اسم سره تړلي وي نو هلته ملکیت یا اضافت ظاهروي، د لاژم فعل سره، د تصریف پۀ صورت کښې، د شخصي ضمیرونو پۀ ځاي استعمالېږي او متعدي فعل سره مفعولي حالت ظاهروي دا د سندهۍ ژبې هم یو مخصوص صفت دی سندهۍ ژبه ځانله د مخصوصو حرفونو نه علاوه پښتو سره د ډېرو حروفو اشتراک لري، د افغاني فعلونو صیغې هم د عربۍ او عبرانۍ قواعدو پۀ څیر فقط د دوه بنیادي زمانو، ماضي او مضارع نه جوړېږي، ماضي بعید صرف پۀ مرکبو زمانو کښې استعالېږي او هغه هم د امدادي فعل پۀ مدد سره، یو بل مخصوص صفت د پښتوژبې دا دی چې لاژم فعل د جنس پۀ لحاظ د فاعل مطابق وي ولې متعدي فعل د جنس او تعداد دواړو پۀ لحاظ د مفعول مطابق وي، پۀ څو توګه د پښتو نحو د عبرانۍ سره ورته والی لري او زما پوخ یقین دی چې پۀ دواړو ژبو کښې زیات قربت تلاش کېدلی شي پۀ شرط د دې چې دا موازنه پۀ عبرانۍ پوهه سړی وکړي– (11) "

د میجر موصوف د دې پیرګراف نه څرګندېږي چې دوي دا کوښش کړی وۀ چې د پښتو د ژبني اړخ جاج واخلي حالانکه د دې نه مخکښې د دې نظریې منونکیو فقط د پښتو پۀ تاریخ کښې دلچسپي لرله، د خان د کتاب "تذکره" ذکر وشو چې پکښې د پښتو او سامي ژبو باب راغلی دی غالباً خان صاحب د میجر صاحب پۀ مشورو عمل کړی دی، د دې نظریې علمبردارو یو بل استدلال هم وړاندې کړلو هغه دا چې د دوي پۀ خیال د پښتنو او یهودیانو پۀ شکل و شباهت او قدو قامت کښې ډېر زیات مماثلت دی پۀ هرحال د اریایي نظریې منونکیو د دوي دلیلونو او بحثونو سره اتفاق نۀ لرلو او د موجوده وخت اکثر کسان دې نظریې ته د شک پۀ نظر ګوري ولې دا هم یو حقیقت دی چې اوس هم داسې ډېر د لسانیاتو ماهرین شته چې پښتانۀ بني اسرائیل او پښتو د سامي نسل ژبه بولي او عوام خو پۀ دغه نظریه غیر متزلزل یقین لري ځکه یې لۀ اهمیته انکار نشي کېدی.

**دویمه نظریه: پښتو اریایي ژبه ده:**

د پښتو متعلق دویمه نظریه دا ده چې دا یوه اریایي ژبه ده دا رنګ د دې ژبې ویونکیو متعلق هم دا دعوي ده چې دا خلق ارین دي د پښتو ژبې متعلق دا نظریه هغه وخت مخته راغله چې کله فرنګیان براعظمګي ته راغلل نو د دوي عالمانو د براعظمګي پۀ ژبو کښې ژوره دلچسپي واخسته او کار یې پرې وکړو دوي د نورو ژبو غوندې یې پۀ پښتو کښې هم کار کړی دی د خارجیانو دې ډلې ته مستشرقین (Orientalist) وایي، د ژبو پۀ حواله د دې مستشرقینو د کار اکثر یو جهت وۀ چې ورته لسانیاتي اړخ وئیلی شي دوي د نوو لساني اصولو مطابق د براعظمګي

د ژبو لساني تجزيې پېښ کړې، د پښتو ژبې لساني جائزې نه پس دوي دعوی وکړه چې دا ژبه د اريا نسل د ژبو سره اړيکې لري پۀ دې سلسله کښې چې کومو مستشرقينو نومونه د ذکر وړ دي پۀ دې کسانو کښې کلاپروتهه، الفنستن، برن هارډ ډورن، هنري والټر ېلیو، ډاکټرارنسټ ټرمپ، پروفېسر سپيګل، ډاکټربرنل، جيمز ډارمستېټر، ډي- ايل- ار- لوريمر او ګرئيرسن او نور شامل دي، د دې نظريې مرستيالو د خپلې نظرې بنياد پۀ لساني تجزيې کښېښودو، دې نه علاوه دوي د هغه تحريرونو نه کوم چې پۀ ډبرليکونو او سکو موجود دي هم استناد وکړو او ښۀ پۀ منطقي او استدلالي ډول يې دې نظريې ته تقويت وبخښلو، پښتو څرنګ اريايي ژبه ده؟ د دې سوال ځواب لۀ پاره د اريايانو شاليد پۀ مختصره توګه بيانوو:

اول اول اريايان پۀ اريانه ويجو کښې وسېدل دلته اريايي قومونو يوه مخصوصه ژبه وئيله چې اريک نومېده اريايي ژبې لۀ دغې ژبې زېږېدلې دي لۀ دې ځايه دوي باختر (بلخ) ته راغلل باختر د دوي د دېرۀ دويم منزل وۀ دلته څۀ وخت پس دوي پۀ دريوو ډلو کښې تقسيم شول، د دې تقسيم پۀ بابله محمد مدني عباسي ليکي:

"پښتو ژبه د هند يورپي ژبو څخه ده د دغو ژبو مشهور نوم اريايي هم دی، د مستشرقينو خيال دی چې اريا قوم د وسطي ايشيا نه نقلِ مکاني وکړه او جنوب مغرب کښې پۀ بلخ کښې اباد شول، د دې ځاى نه ځنې قبيلې د ايران پۀ لوري لاړلې او د دې ځاى مقامي ژبې سره د احتلاط پۀ نتيجه کښې اوستا منځ ته راغله، چې کومې قبيلې پۀ سلېمان غرۀ رواوښتې او د هندوستان پۀ لور لاړلې، هغوي د پراکرت سره پۀ ګډون سانسکرت ژبه تشکيل کړله او چې کومې قبيلې پۀ بلخ کښې پاتې شولې هغوي پښتو وئيله" (12)

کوم قومونه چې پۀ اباسين ختيز پۀ لوري پورې وتل هغوي پۀ سانسکرت ژبه ويدا (Veda) وليکلو چې د ليکلو نېټه يې ۱۴۰۰ ق م تخمين کېږي او اېراني ډلې اوستا وليکلو دا د ۱۰۰۰ ق م خبره ده، پۀ دغه دواړو کتابونو کښې د پښتنو ذکر موجود دی، دا قوم هم لۀ ۱۴۰۰ ق م نه تر ۱۰۰۰ ق م پورې د اباسين غاړو ته راورسېدو او تر اوسه پۀ هغه زړه ژبه خبرې کوي د ژبو پۀ دغو دريوو واړو ښاخونو کښې اوستا، سنسکرت او پښتو د پوره نوم او شهرت خاونداني دي او دريواړه د خوږو خويندو پۀ نامه يادېږي مګر اوس پکښې يوازې پښتو ژوندۍ ده او دغه نورې دواړې خويندې د مرګ پۀ خوب اودۀ دي (13)

پورتنی بحث د دې نظريې د تاريخي لسانياتي تحقيق سره تعلق لري، عبدالحي حبيبي صاحب د لغوي دلائلو پۀ سلسله کښې اريا د پښتو اره ويجه (اريانه ويجه) د پښتو اويجه او ورته (ارياورته) د پښتو /ورشو/ سره تطبيق کړی دی او د دې بحث خلاصه يې داسې پېښ کړې ده: "پښتو لۀ هندو اروپايي يعني اريايي ژبو څخه ده

ځکه چې د اريايي پښت زانګو دغه زمونږ د هېواد زمکې دي نو اصلي اريايي ژبه هم دلې وئېل کېده او دلې پۀ خپله پاتې ده يا يې لور پښتو تر اوسه پۀ دغو غرو کښې ژوندۍ ده " (14)

دې د پاره چې د دې نظرې ښۀ وضاحت وشي، لاندې د ځوماهرينو رايې وړاندې کوو:

پروفېسر کلاپروتهـ (: **Professor Klaproth)**

موصوف د روسي اکېډيمۍ غړې وۀ دوې د پښتو ژبې لغات د څو نورو ژبو سره مقائسه کړل او د راوړتې پۀ الفاظو کښې د پښتو ژبې پۀ حقله پۀ دې نتيجه ورسېدو چې پۀ پښتو او سامي ژبو کښې نۀ پۀ لفظي او نۀ پۀ ګرائمري حواله معمولي غوندې مشابهت شته او پښتو بغېر د څۀ شک نه د لوي انډوجرمانک خاندان لۀ ژبو څخه ده (15)

**ماونټ سټورټ الفنسټن** (: **Mountstuart Elphinstone)**

الفنسټن مشهور انګرېز مؤرخ دی څوک چې پۀ سرکاري مشن د پښتنو علاقې ته راغلی وۀ دوي پۀ دووو جلدونو کښې د کابل د سلطنت حالات پۀ An Account of the kingdom of Caubul نومې کتاب کښې ليکلی دي پۀ دې کتاب کښې دوي د پښتو ژبې پحقله داسې غږېدلی دی:

"د پښتو اصليت پۀ اسانه نۀ معلومېږي ځکه چې ډېر الفاظ چې دا ژبه ځنې جوړه شوې ده، د نامعلوم ماخذ نه راټوکېږي او پۀ دې کښې زيات هغه لفظونه شامل دي کوم چې د بنيادي ضرورت د څيزونو نومونه دي او هم د دې نه به د اصلي ژبې رغاونه شوې وي، بيا هم لۀ دغو الفاظو څخه ځنې لۀ ژند او پهلوي سره ډېر ژور مماثلت لري د مثال پۀ توګه د پلار، مور، خور او ورور لۀ پاره نومونه" (16)

دوي د ۲۱۸ پښتو لفظونو موازنه د فارسي، ژند، پهلوي، سنسکرت، اردو، عربي، ارميني، جارجيني، عبراني او شالډيک ژبو د لفظونو سره وکړه د نتيجې پۀ طور يې تقريباً نيم لفظونه د پښتو منفرد او ځانګړي وموندل، څۀ يې د فارسي سره مشترک وو څۀ د ژند او پهلوي سره او يو خاص تعداد د داسې لفظونو وۀ چې پۀ جديده فارسي کښې مستعمل نۀ وو، د ژند او پهلوي څخه ځنې د سانسکرت سره مشترک وو، د دې نه دوي پۀ دې نتيجه ورسېدل چې دا درې ژبې پۀ خپلو کښې ډېرزيات قربت لري خوځنې لفظونه د سانسکرت ځانګړي وو او پنځۀ شپږ د اردو ژبې وو، دوي دا احتمال هم ښکاره کړی دی که چيرې د پنجابۍ ژبې لغات هم راوړي شوي وی نو د مذکوره ژبې د لفظونو پېژندګلي به هم شوې وي، پۀ اخر کښې الفنسټن اعلان کړی دی چې پۀ دې ۲۱۸ لفظونو کښې يو هم د عبراني، شالډيک، جارجيني او ارميني ژبو نه د ماخوذ کېدو معمولي اشاره قدرې نشته (17)

روفېسر برن هارډ ډورن (**Professor Bornhard Dorn**)

پروفېسر لهٔ اصله جرمن نژاد وهٔ خو زيات عمر يې د روس پهٔ سېنټ پيټرز برګ کښې تېر کړې دی د دوې "A Chrestomathy of Pushto Language " او د نعمت الله د مخزن افغاني ترجمه زيات شهرت لري د پښتو ژبې پحقله د دوي رايې مېجر راورټي داسې نقل کړې ده: "پښتو ژبه د عبرانۍ يا شالډيک سره نهٔ خو پهٔ ګرامر او نهٔ پهٔ لغاتو کښې معمولي شانتې مماثلت لري او د دوي (برن هارډ ډورون) خيال دی چې افغاني د لوي انډوټيوټانک خاندان د خلقو سره تعلق لري چرته چې اوس دوي ميشتهٔ دي هم دا د دوي اصل وطن دی "(18)

(1) ايچ جي راورټي (**H.G. Raverty**)

مېجر موصوف د پښتو لساني تحقيق پهٔ حواله يو معروف نوم دی دوي اګرچې ډېر کتابونه ليکلي دي خو د پښتو ژبې پهٔ بابله د دوي "A Dictionary of the Pukhto, Pushto" او "Grammar of the Afghan language" مقبوليت لري دوي اګر چې پښتو د سامي خاندان سره متعلق کوي خو دې سره سره د پښتو د ژند او پهلوي سره د نزديکت قائل هم ښکاري لکه چې ليکي:

"د تلفظ پهٔ سختوالي او د نومونو پهٔ تصريف کښې دا د ژند او پهلوي ژبې سره مشابهت لري او د اولذکرژبې غوندې، پهٔ هغه زړو ليکنو کښې چې مونږ پرې اعتماد کولی شو، پهٔ هر لفظ کښې د وړو علتي/اولي حرفونو پهٔ ځاي د مختلفو امتيازي حرفونو پهٔ شکل کښې يې هم ليکلی شو او هم ليکلی کېږي، د ژند او سنسکرت پهٔ نژدېوالی کښې اوس څهٔ شک نهٔ دی پاتې مګر داسې معلومېږي چې پهلوي ژبه د عربۍ سره زيات قربت لري او د فارس د موجوده ژبې نه لږ مختلفه ده " (19)

(2) **هنري والټر بېليو** (**H. W. Bellow**)

هنري والټر بېليو که څهٔ هم ډېر کتابونه ليکلي دي خو د مېجر راورټي پهٔ څېر يې د پښتو ډکشنري او ګرامر ته خصوصي شهرت حاصل دی د پښتو ګرامر پهٔ مقدمه کښې دوي د پښتو پحقله خپله قيمتي رايې ورکړې ده چې پښتو د ګرامري تشکيل پهٔ سلسله کښې هندي (اردو) او د الفاظو د يو خاص جسامت پهٔ حواله فارسي زده شوې ده (20)

پښتو او هندي کښې د ګرامري تشکيل نژدېوالی او د پښتو او فارسی د مصدرونو مشابهت لهٔ پاره د ثبوتونو راوړلو نه پس بيېلو د پښتو ژبې پهٔ باره کښې خپله رايې داسې ورکوي: "پښتو پهٔ اصل کښې د سانسکرت يوه لهجه ده. پښتو دا موجوده هند فارسي شکل د هندي قبيلو او د ايرانيانو سره د ډېر وخت نه جاري

روابطو په وجه ډېر مخکښې اختيار کړی وه، د دوي (ايرانيانو) د زيات اثر په وجه زيات لفظونه د پښتو د روزمره ژوند په خبرو اترو کښې استعماليدل شروع شول " (21)

**جېمز ډارمسټېټر** (James Darmesteter)

موصوف د نولسمې صدۍ عيسوي يهودي نژاد عالم وه چې د فرانس د خاورې سره يې تعلق لرلو، دوي د کالج ډي فرانس د مشرقي علومو استاذ وه او په کال ۱۸۸۲ء کښې په خصوصي مشن براعظمګي ته راغلی وه د فارسي او پښتو پحقله يې ښکلي کتابونوه ليکلي دي، د پښتو ژبې او ادب په باره کښې يې د پښتونخوا شعر هار و بهار ته خصوصي اهميت حاصل دی، عبدالحی حبيبي صاحب مونږ ته د پښتو ژبې متعلق د دوي رايې داسې راکوي: "پښتو له هندي لهجو څخه نه ده او نه له پاړسو او پهلوي څخه پيدا شوې ده بلکه دا ژبه د ژند (اوستا) يا يوې بلې ژبې سره چې ژند ته ورته وي ډېر مشابهت لري " (22)

او ډاکټر خالدخان خټک د دوي په حواله داسې هم ليکي: "پښتو ژبه د خپلو خصوصياتو په وجه يوه هندي لهجه نه ده ځکه چې دا د هندي نظام په دووو جوتو خصوصياتو کښې يو هم نه لري يعني نه خو په دې کښې تنفسي اوازونه شته او نه پکښې معکوسي –" (23)

خو د ډارمسټېټر د معکوسي اوازونو په حقله دا رايې صحيح نه ده، ممکنه ده چې اول به پکښې د اوازونه نه وو خو اوس /ټ/، /ډ/، /ړ/، او /ڼ/ د پښتو لازمي غږونه دي چې معکوسي دي –

(3) **ډاکټر ارنسټ ټرمپ** (Ernest Trumpp)

ډاکټر ټرمپ په اروپايي ژبپوهانو کښې په دې بابله هم مقام لري چې دوي په وړومبي ځل دا سوال پورته کړو چې پښتو د انډو يورپين ژبو له هندي (Indo-Aryan) يا ايراني (Zend Family) کوم ښاخ سره تعلق لري، دوي پښتو په انډوارين خاندان پورې داسې ښلوي:

"پښتو ژبې د هندوستاني پراکرت ژبې ټول معکوس اوازونه محفوظ کړي دي. سوا د تنفسي اوازونو نه ځکه چې د پښتو زيات لغتونه د متصلو پراکرتونو څخه ماخوذ دي بيا هم پښتو په څه حواله هم د سندهي يا پنجابي غوندې پراکرتي ژبه نه ده بلکه يوه ازاده او خود مختاره ژبه ده کومه چې له اريايي منزل نه د ايراني منزل په لور راغزېدلې ده همدغه وجه ده چې پکښې د هندي او ايراني د دواړو ګروپونو خاصيتونه ليدل کېږي ولې غالب خاصيتونه بيا هم د هندي لري(24) "

4) **جورج ابراهام ګرئيرسن** (**George Abraham Grierson**)

ګرئيرسن پۀ ۱۸۷۷ء کښې انډين سول سروس ته راغلو د ۱۸۹۸ء او ۱۹۰۲ء تر منځه د براعظمګي د ژبو پۀ حواله د دوي کار پۀ نولس جلدونو کښې د Linguistic Survey of India پۀ نوم چاپ شولو د دې کتاب پۀ لسم جلد کښې دوي د پښتو ژبې لساني مطالعه پېښ کړې ده وروستو د پاکستان د جوړېدو نه پس د پاکستاني ژبو پۀ حقله کار د Linguistic Survey of Pakistan پۀ نوم چاپ شولو اوس پۀ دويم جلد کښې يې د پښتو پۀ باره کښې لساني مباحث موجود دي دوي د پښتو متعلق داسې راې لري:

"اوس د زياتې عرصې نه دا خبره منلې شوې ده چې د دې ژبې تعلق لۀ اريايي ذخيرې سره دی خو تر ځۀ مودې پورې دا خبره د لنجې باعث وه چې ايا د دې ژبې تعلق د ايراني ښاخ سره دی که د هندوستاني ښاخ سره، لکه چې بره پۀ تفصيل سره پۀ عمومي پېژندګلو کښې د دغو ژبو پۀ ذيلي ښاخ کښې وضاحت شوی دی چې د ايراني ښاخ ژبې پۀ دووو ذيلي ښاخونو کښې تقسيم شوې دي يعني مغربي او مشرقي ښاخونه، د اولني ښاخ غټې مثال د ايران جديده فارسي ده چې هغه پخپل وار د ساسانيانو لۀ پهلوي پۀ لاره د اچېمينيډ لۀ زړې فارسي نه راکوزه شوې ده، د مشرقي ښاخ د ټولو نه زوړ شکل چې مونږ ترې واقف يو ژند دی، د دې نه د نورو ژبو سره سره ننني د پامير ژبې غلچه ژبې پيدا شوې، بلوچي او لکه چې زر به پۀ دې خبره غور وشي چې پښتو هم د دې ګروپ سره تعلق لري " (25)

5) **مورګن سټيئرني** (**Morgenstierne**)

دا مستشرق د ناروې پۀ اوسلو يونيورسټي کښې استاد وۀ دوي دوه ځله د پښتنو د علاقې دورې وکړې او د دې سيمې د ژبو پۀ باره کښې يې معلومات جمع کړل، د پښتو ژبې پۀ بابله د دوي Report on linguistic mission to Afghanistan او Report on linguistic mission to North-Western India او An etymological vocabulary of Pashto دخصوصي ستاينې وړ کتابونه دي، د پښتنو او د پښتو باره کښې د دوي معلومات ډېر دلچسپ دي دوي پښتو د پاره د ساکا ژبې د اهميت قائل دي (26)

او دارنګ پښتانۀ لۀ ساکا قبائيلو ځخه شمېري او پښتو د ساکا لهجه ګڼي لکه چې د دوي پۀ باره کښې اولف کېرو ليکي:

"پښتو يا پختو پۀ اصل کښې د ساکا د ژبې يوه څانګه ده چې لۀ شمال ځخه راغې مګر د دې رابطې د ټينګښت ثبوت ممکن نۀ دی خو دا پۀ ډاګه ده چې پښتو پۀ اصل او جوړښت

کښې لۀ ایراني ژبو څخه ده او د هند ارین (Indo-Aryan) ګروپ څخه یې ډېر څۀ پور کړي دي د دې پورونو پۀ لړکښې زیاته برخه یې مورفولوژي (لهجه) تشکیلوي ." (27)

(6) **سر اولف کېرو (Sir Olaf Caroe)**

کېرو د شلمې پېړۍ مشهور مستشرق دی چې د پښتنو تاریخ یې د The Pathans پۀ نوم لیکلی دی د دوي دا کتاب دلته د شهرت باعث وګرځیدو وروستو پۀ اردو کښې ترجمه کړی شو او اوس پۀ پښتو کښې هم ژباړلی شوی دی پۀ دې کتاب کښې دوي د پښتو ژبې پۀ باب له خپله رایې داسې څرګندوي :

"پۀ لنډ ډول چې هر څومره د پښتو ژبې پحقله ژوره څېړنه کېږي پۀ هماغه اندازه دا نتیجه تر لاسه کېږي چې د جغرافیوي موقعیت لۀ مخې د هندي او ایراني تسلط لۀ ورایه ښکاري او ژبخ یې هم د دواړو هندي او ایراني ګروپونو مشخصات لري چې ایراني ژبه لږ څۀ زیات اثر ښیي، دا مشخصې نۀ یوازې د کلمو او مشتقاتو ایتهمولوژیکي (ریښه یي) اړیکې څرګندوي بلکه د نحوي جوړښت (Syntax) رابطې هم پۀ ګوته کوي، پۀ یوه جمله کښې وئیلی شم چې پښتو یا پختو د یوې منځنۍ ژبې ډېر ښۀ مثال کېدی شي " (28)

تر اوسه چې د پښتو ژبې پحقله پۀ حېث د اریایي نظریې د کومو مستشرقینو رایې مخې ته راغلې پۀ هغو کښې دا محققین لکه چې مخکښې ولیکل شول پۀ دووو ډلو کښې تقسیمېږي: یوه ډله وایي چې پښتو د هندي ښاخ سره اړه لري دا نظریه پۀ اول وار پروفېسر مُلر پۀ Uber die Sprache der Afghanen کښې پۀ ۱۸۶۲ء کښې ولیکله چې ډاکټرټرومپ یې پۀ ۱۸۷۳ء کښې پخپل ګرامر کښې راټینګه کړه، وروستو پرفېسر فون شپیګل (Prof. Von Spiegel) پۀ خپل کتاب Grammar of the Gaudian languages کښې د دې تائید وکړو دې پسې پۀ ۱۸۸۷ء کښې جیمز ډارمستیټر هم دغه نظریه خپله کړه خو څو کاله پس یې دغه نظریه بدله کړه او پښتو یې د ایراني ښاخ څانګه وبلله (29)

ولې نور اکثر پوهان پښتو دا د انډو یورپین ژبې ښاخ یعني د ایراني پښې ګوته بولي، د شلمې صدۍ پۀ دریمې ربعې کښې دا نظریه ډېره مشهوره شوه او اکثرو پښتنو محققینو تائید کړه د دغه نظرې موئید او علمبردار ستر محقق او عالم عبدالحي حبیبي صاحب دی او بهادر شاه ظفر کاکاخېل غوندې لیکوالو او محقیقینو یې تائید او تقلید کړی دی.

**دریمه نظریه: پښتو پۀ حېث دیوې منفردې ژبې:**

د پښتو ژبې پۀ بابله دا نظریه پۀ وړومبني ځل مولانا عبدالقادر صاحب پېښ کړه د هغوي دا خیال وۀ چې د پراکرتي دور نه مخکښې د دې علاقې د خلقو ژبه پښتو وه، پښتو دومره قدیمه ژبه ده

چې د دې ربښې په سامي، انډو ایراني، چیني او اریایي ژبو کښې موندی شي او هم دا د دې ژبې د قدامت دلیل دی، د مولانا صاحب په خیال پښتو له اریایي خاندان څخه زېږېدنه نه ده موندلې بلکه دا ژبې له پښتو پیدا شوې دي په دې سلسله کښې د مولانا صاحب لاندېنی اقتباسونه د کتو وړ دي:

"د دې مرکزي خطې د ټولو نه وختنۍ ژبه کومه ده؟ د دې ځای اصلي وسېدونکي څوک دی چې ژبه، تاریخ او نسل یې په دې زمکه له زرونو لکهونو کالو راسې خپلې ولې غزولې دي؟ او تر ننه پورې موجودې دي، نو زما خیال دی چې که د وسطي ایشیا د دې علاقو د وسېدونکیو له پراکرتي دور څخه د مخه کومه ژبه وي نو پښتو د دې دعوی کولی شي د دې خبرې دلیل دا دی چې د پښتو ژبې ریښه او تعلق د سامي، انډوایراني، چیني، سانسکرت، اوستا او د نورو ډېرو ژبو سره دی " (30)

"که د دې نظریې په بنیاد علمي تحقیق وشو نو امید نه بلکه یقین دی چې محققین به په دې نتیجه رسېږي او د پښتانو د بني اسرائیل کېدو یا سامي النسل کېدو یا د دوي د اریا ، منګول یا د بل نسل څخه د کېدو ټول امکانات به له مېنځه ووځي او محققین به په دې خبره کښې په حقه وي چې د بني نوع انسان د مهذب ژوند ابتدا له پښتون نسل او له پښتو نه شوې ده " (31)

"د پښتو ژبې، پښتون ثقافت، تهذیب او تمدن متعلق ما خپله نظریه وړاندې کړه زما د عقیدې مطابق پښتانه نه خو اریا دي نه سامي او نه منګول؛ پښتانه د دې ټولو نه قدیم دي، دارنګ د دوي نسل او ژبه هم د تاریخ نه وړاندې دور سره تعلق لري که چرې وسطي ایشیا د بني نوع انسان د پېداوښت او تهذیب ځانګو وي نو پښتون قوم د دوي ژبه او د دوي تهذیب هم لاژما د ټولو نسلونو او ژبو نه قدیم پکار دی مونږ به دا هم منو چې ګېر چاپېره خلق، که دوي اریا دي که سامي دي که بل څوک نو دا ټول هم له دغه ځایه او هم له دوي څخه ویړ شوي دي " (32)

په وړومبي ځل د مولانا صاحب دا نظریه په قیاسونو مبني او ځکه نو جذباتي ښکارېدله خو وروستو څو نورو کسانو په دې نظریې اضافې وکړې او پښتانه یې یو منفرد قوم او پښتو یې ځانته ژبه وګڼله په دې کسانو کښې یو اهم نوم د پرېشان خټک صاحب دی هغوي د پښتون ضابطه اخلاق په بنیاد دا قوم او ژبه منفرد بولي لکه چې لیکي:

"مونږ د دې (مولانا صاحب د نظریې) سره خو په کلي توګه اتفاق نه شو کولی چې د دنیا د ټولو ژبو مور پښتو ده او نه د دې دعوې تائید کولی شو چې د دنیا ټول نسلونه له پښتنو څخه دي ځکه چې دا ثابتول هم اسان نه دي چې د دنیا اولنۍ ابادي په دې سیمه کښې وه چرته چې پښتون اباد وو یا اوس اباد دی البته دا ضرور وئیلی شو چې په دې علاقه کښې د جغرافیایي

حالاتو د موزونیت لۀ کبله د تاریخ نه هم وړاندې انسانی ابادي موجوده وه او دا د اریایانو د راتګ نه مخکښې خبره ده " (33)

د پرېشان خټک صاحب د خبرې تائید د ډاکټر مظفر ملک صاحب د دعوې نه هم کېږي د هغوي خیال دی چې پښتو او پښتانۀ لۀ اریایانو نه مخکښې دلته مېشتۀ دي پښتانۀ پۀ هغه وخت کښې پۀ باختر کښې وسېدل او د دوي دا ښار د بابل او نینوا هم عصر دی، لاندې پۀ دې حقله د ملک صاحب د تحقیق خلاصه پېښ کېږي:

د پښتنو قبیلې لۀ یوۀ نسل څخه نۀ دي هیروډوټس د پکتایي قبیلو ذکر کړی دی که دا نننی پښتانۀ وي نو دا د دې خبرې ثبوت دی چې دلته دوي لۀ زرونو کالونو راسې مېشتۀ دي او اغلبه ده چې د تاریخ پۀ اوږدو کښې به یې د هندوانو او د بدھ مذهب قبول کړی وي وروستو پۀ لسمه صدۍ عیسوي کښې یې اسلام قبول کړی دی پۀ رګ وید کښې هم د دوي ذکرشته، د پکتا قبیلې به خپل بادشاه وۀ او دا بادشاهي به د پلار نه زوي او د زوي نه نمسی ته منتقل کېده دا رنګ د دوي حکمراني مسلمه وه د ځنې ماهرینو دا خیال دی چې د پښتون وجود لۀ اریایانو نه زوړ دی او هم دا حال د دوي د ژبې دی پۀ دغه ورځو کښې باختر (بلخ) د پښتنو مرکزي ښار وۀ چې د بابل او نینوا هم عصروۀ د دې نه دا ثابتېږي چې پښتانۀ ځان ته تاریخ لري (34)

وروستو حنیف خلیل دا نظریه مخ پۀ وړاندې بوتله چې تفصیل یې "اردو کی تشکیل میں پشتونوں کا کردار" کښې موندل کېږي ورپسې سعدالله جان برق صاحب پخپل کتاب "د پښتو ژبې تاریخ" مبنې دا خبره غبرګه کړه چې د پښتنو ژبه پښتو "ام الاسنه" یعني د ټولو ژبو مور ده ځکه چې د ژوند آغاز او ابتداء د هندوکش د غرونو نه کېږي (35)

او دارنګ د وخت سره سره دې نظریې هم بازي بایللې نۀ ده او پۀ دې روایت کښې یې اضافه کړې ده

دلته پۀ اخر کښې د یوې بلې نظرې، چې اګر که غېر معروفه ده وضاحت به بې ځایه نۀ وي دا نظریه محمد پروېش شاهین صاحب پېښ کړې ده چې پښتو د دراوړي نسلونو لۀ باقیانو څخه ده د شاهین صاحب دا نظریه غالبا پۀ هغو بنیادونو ولاړه ده پۀ کومو بنیادو چې عین الحق فریدکوټي صاحب د اردو ژبې متعلق خپله نظریه ودرولې ده شاهین صاحب اګر چې د فریدکوټي صاحب هومره غټ کتاب خو نۀ دي لیکلی ولې څۀ مضمونونه یې مخې ته راغلي دي د دوي د دغې نظربې پۀ سلسله کښې ډاکټرغلام حیدر سندهي صاحب لیکي:

"د پښتو پۀ باره کښې د نوي بحث اغاز کوونکي د محمد پروېش شاهین هغه رایې هم کافي وزني او منطقي معلومېږي کومه چې دوي د پښتو د هراړخېزه جائزې نه پس اخستې ده د دې تصور بنیاد د پښتو پۀ سیمه کښې اباد دراوړ، د دراوړي ثقافت باقیات

او پهٔ پښتو کښې د دراوړي اثراتو پهٔ موجودګۍ ایښی شوی دی د دوي د دې تحقیق نتیجه دا راووځي چې د پښتو منبع دراوړي ژبې دي، دوي وايي چې زمونږ ژبې اريايي نهٔ دي او نهٔ مونږ پهٔ نسلي توګه اريايان يو زمونږ ژبې د اريايانو پهٔ مقا بله کښې ډېرې زړې، ډېرې مکملې او ډېرې وسيع دي-" (36)

**خلاصه او خاتمه:**

دا دي د پښتو متعلق هغه درې نظريې چې پهٔ عوامو کښې شهرت لري او دلته يې پهٔ تفصيل سره ذکر وشو د پښتو پهٔ بابله سامي نظريه زيات پهٔ تاريخي او نسلي پلټنو، اريايي نظريه پهٔ لغوي څېړنو او د پښتو پهٔ حقله منفرده نظريه پهٔ قياسونو ولاړه ده، د پښتو پهٔ حق له دا ټولې نظريې پهٔ دې خبره استدلال کوي چې دا ژبه ژوندۍ ژبه ده پهٔ ماضي کښې هم د دې يوخپل اهميت او افاديت وۀ او اوس هم، او تر څو چې د دې ژبې د استقبالي وخت تعلق دی نو د نظرييو دا رنګا رنګي او تنوع پهٔ دې ګواهي ورکوي چې مستقبل يې تابناک دی که داسې نهٔ وی نو دلته به فقط يوه نظريه وی چې د جمود او سکون ښکارندوي به وه، دا ټولې نظريې پهٔ مضبوطو علمي بنيادونو د اودرېدلو هڅې کوي د هرې نظريې يو نه يواړخ ډېر مضبوط دی چې پهٔ تېرو پاڼو کښې ورته اشارې شوې دي خو دلته بايد دا وضاحت وکړو چې لۀ بده مرغه د پښتو ژبې تحريري سرمايه د ماضي قريب سره تعلق لري تر څو چې د دې ژبې زړې نمونې مخې ته نهٔ وي راغلې تر هغې به د قياسي استدلال نه کار اخستل کېږي چې هم به يې د صائب کېدو امکان وي او هم به يې د خطا کېدو او پهٔ دې سلسله کښې پهٔ خپله خبره داسې ټينګېدل چې هم زما رايې اخري او حتمي ده يقينا چې سرزوري او د علمي رويو نفي کول دي خو د دې هر څۀ باوجود نن د مغرب د نوې ژبپوهنې عالمان پهٔ دې متفق دي چې پښتو د انډويورپين خاندان د ايرانې ښاخ سره تعلق لري.

## REFERENCES

1. Gandapur, S. S. M. (1979). *Tarikh e Pashtun* (S. A. Alwi, Trans.). Karachi: Sheikh Shaukat Ali and Sons, P: 169.
2. Abid, A. J. (2006). *Pashto Zaban o Adab ki Mukhtasar Tarikh*. Peshawar: University Publishers, P: 3.
3. Rohila, S. U. H. K. (2007). *Qais Pathan_ Ek Mutaala*. Lahore: Afghan Research Centre, PP: 19-20.
4. Sabir, H. I. e. (2007). *Israr Ul Afaghina* (S. U. H. Rohila, Trans.). Lahore: Afghan Research Centre, P: 8.
5. Khan, K. R. (1983). *Tazkira* (4th ed.). Kiraachi: Roshan Khan and Company,PP: 395-406.
6. Abasi, M. M. (1969). *Pashto Zaban o Adab ki Tarikh*. Lahore: Markazi Urdu Board, P:9.
7. Khalil, H. (2005). *Urdu ki Tashkil mai Pashtuno ka Kirdar*. Islamabad: Muqtadara Qaumi Zaban, P: 37.
8. Hirawi, K. N. U. (1978). *Tarikh e Khan Jahani o Makhzan e Afghani* (D. M. B. Hussain, Trans.). Lahore: Markazi Urdu Board, PP: 63, 66, 86, 90, 91, 93, 117.
9. Khan, K. R. (1983). *Tazkira* (4th ed.), P: 363.
10. Khan, K. R. (1983). *Tazkira* (4th ed.), P: 410.
11. Raverty, M. H. G. (1981 (First Edition: 1855)). *Grammar of the Afghan Language*. Peshawar: Da Chapzai Printers, P: 23.

"The vowels and consonants used in Pushto have the same powers as those of the Arabic, Hebrew and other Semitic dialects. Like them it has but two genders, the masculine and feminine, but the former have a dual form, which is wanting in Pushto. In this respect the Afghan also differ distinctly from the Zend and the Sanskrit, both of which have a neuter gender, but agrees with the Pehlavi, from which the modern Persian is derived. In common with the Hebrew, Arabic, and Persian it has the peculiar separable and inseparable pronouns; the latter being invariably attached to some preceding word, whether a noun, verb or particle. When attached to nouns they signify possession or propriety; with intransitive verb in the course of conjugation, they are used in the place of personal pronouns; and with transitive, point out the objective case. This is also a peculiar feature of the Sindhian language, which has several letters in common with Pushto, besides its own peculiar ones. The inflection of the Afghan verb too, are formed according to the Arabic and Hebrew system, from two original tenses only- the *mazi* or past, and the *muzaria* or aorist, the past participle being used in the construction of the compound tenses, with the aid of the auxiliary, to be Another peculiarity is, that the intransitives are governed, both in gender and number, by the objective case. In many respects the Pushto syntax agrees with that of the Hebrew; and I have no doubt but that much greater affinity will be found to exist between them, if compared by any one well versed in the latter language."

12. Abasi, M. M. (1969). *Pashto Zaban o Adab ki Tarikh*, PP: 9-10.

13. Rishtin, S. U. (NA). *Nawe Tserana* Peshawar: University Book Agency, P: 41.
14. Habibi, A. H. (2005). *Da Pashto da Adabiato Tarikh* (Vol. 1). Peshawar: Danish Khparaduia Tolana, P: 57.
15. Raverty, M. H. G. (1981 (First Edition: 1855)). *Grammar of the Afghan Language,* P: 17.

    (Neither in words nor grammatical structure is there the slightest resemblance between Pashto and any sematic language, and that it is unquestionably a branch of the great Indo-Germanic division of languages.)
16. Elphinstone, N. (1974). *An Account of the Kingdom of Caubal*. London: Oxford University Press, PP: 250-251.

    "Its origin is not easily discovered. A large portion of the words that compose it, springs from some unknown root, and in this portion are included most of those words which, from the early necessity for designating the objects they represent, must have formed parts of the original language of the people; yet some of this very class belong to the Zend and Pehlavee, such as the terms for father and mother, sister and brother."
17. Ibid, PP: 251, 252.
18. Raverty, M. H. G. (1981 (First Edition: 1855)). *Grammar of the Afghan Language,* P: 17.
19. Ibid, PP: 22, 23.
20. Bellow, H. W. (1983). *A Grammar of the Pakkhyo or Pukshto language*. Peshawar: Saeed Book Bank, P: IX.
21. Ibid, P: X.

    بېليو پښتو پۀ انډويورپين کښې د انډوايرانين پۀ ځاي پۀ انډوارين پورې نښلوي اګرکه د دوي دا رايې
    سمه نۀ ده مګر پۀ دې حواله ارزښت لري چې د پښتو او انډوارين ژبو تېنګې اړيکې راپۀ ګوته کوي –
22. (c.f.) Habibi, A. H. (2005). *Da Pashto da Adabiato Tarikh* (Vol. 1), P: 81.
23. (c.f.) Khattak, D. K. K. (2007). *Sindhi, Pashto, Urdu ke Lisani Rawabit* Peshawar: Pashto Academy, Peshawar University, P: 72.
24. (c.f.) Grierson, G. A. (1921). *Linguistic Survey of India* (Vol. 10). Calcutta: Suprentendent government printing, P: 9.

    وګورئ، دا د جېمز ډارمستېټر د خبرې چې بره تېره شوه ځواب دی چې دعوی لري چې پښتو کښې
    معکوسي اوازونه نشته .

    "Dr. Trumpp, in his Pashto grammar, written in 1873, strongly maintained that the language did not properly belong to the Eranian, but was a member of the Indo-Aryan family, and was closely connected with Sindhi, He added, however, that it was not a true member of the Indian family, but that it was rather an old independent language, forming the first transition from the Indo-Aryan to the Eranian family, and therefore participating of the characteristics of both, but still with predominant Prakrit, i.e. Indian, features." (P: 9).
25. Grierson, G. A. (1921). *Linguistic Survey of India* (Vol. 10) P: 9.

26. Mogenstierne, G. (1927). *An Etymological Vocabualry of Pashto*. Oslo: Norske Videnkaps Akademi, P: 5.
27. (c.f.) Caroe, O. (2004). *Pukhtanə* (S. M. Karimi, Trans. 3 ed.). Peshawar: Danish khparanduya Tolana, P: 111.
28. Caroe, O. (2004). *Pukhtanə* (S. M. Karimi, Trans. 3 ed.). Peshawar: Danish khparanduya Tolana, P: 114.
29. Habibi, A. H. (2005). *Da Pashto da Adabiato Tarikh* (Vol. 1), P: 78.
30. (c.f.) Khalil, H. (2005). *Urdu ki Tashkil mai Pashtuno ka Kirdar*, PP: 19-20.
31. **(c.f.)** Khattak, P. P. (2005). *Pashtun kaun* (2nd ed.). Peshawar: Pashto Academy, University of Paeshawar, P: 120.
32. **(c.f.)** Khattak, P. P. (2005). *Pashtun kaun* (2nd ed.), PP: 125-126.
33. **(c.f.)** Khattak, P. P. (2005). *Pashtun kaun* (2nd ed.), PP: 126-127.
د دې مقصد دا نهٔ دی چې ګڼي دا نظریه پهٔ اول ځل دوي پېښ کړې ده د دوي نه ډېر مخکښې د ټرومپ پهٔ لیکنه کښې د دې نظرئې کړهٔ ورهٔ پهٔ نظر راځي، حواله پاس تېره شوې ده –
34. Hussain, D. M. M. (2003). *Nasliat e Pakistan*. Islamabad: Muqtadara Qaumi Zaban, PP: 281-282.
35. Barq, S. J. (2017). *Da Pašto žəbe Tarikh*. Peshawar: Aamer Printers and Publishers, PP: 38-59.
36. Sindhi, D. G. H. (2005). *Pakistan ka Lisani Jughrafia*. Islamabad: National Institute of Pakistan Studies, P:99.